# د کورني تاوتريخوالي نښې نښانې پېژندل

**تش په نوم «ناموسي تاوتريخوالي»** امکان لري داسې يو څه وي...

- چې درته وويل شی چې کلتور او کورنۍ ته د سپکاوي سبب ګرځئ

**اقتصادي تاوتريخوالي** داسې وي لکه...

- د چا پر پيسو يا مالي سرچينو کنټرول يا ورڅخه د هغوی محرومول
- اړتيا وړ شيانو لکه خوړو او حفظ الصحې توکو باندې کنټرول يا ورڅخه خلک محرومول
- چاته د کار کولو يا مرستو ترلاسه کولو اجازه نه ورکول
- دا ټاکل چې څوک څومره پيسې او پر څه مصرف کړي
- د چا د شخصي شتمنيو او مالي چارو کنټرول اخستل

**فزيکي تاوتريخوالي** داسې وي لکه...

- وهل ټکول، چيچل، په لغتو وهل، له ويښتانو کشول، سوځول، خپه کول يا د ويرولو او تاوتريخوالي بل هر ډول

**معاصره غلامي او استثمار** داسې وي لکه...

- خدمت يا کار کولو ته مجبورول يا فشار راوستل

**جبري کنټرول** داسې وي لکه...

- د مختلفو تکتيکونو په کارولو سره د کوم کس ورځنۍ چارې، (د مثال په ډول عادتونه، چال چلند، د تګ راتګ ځايونه، د ناستې پاستې کسان، د پيسو لګول) يا له کومې اړيکې د وتلو لپاره د کس د وړتيا کنټرولول
- د کوم کس د کډوالۍ سندونه خرابول، د حقوقي سلا مشورو مخنيوی کول يا د شړلو ګواښ کول او په دې توګه د هغه کس د کډوالۍ حالت کنټرولول

**جبري کنټرول د تاوتريخوالي د نورو ډېرو ډولونو بنسټ جوړوي.**

**رواني يا عاطفي تاوتريخوالي** داسې وي لکه...

- سپکاوی، تور لګول يا ګواښ کول
- فريب يا بلاکميل کول
- د کارونو د خرابوالي پړه پر بل اچول يا هم هغوی ته داسې احساس ورکول چې ناکامه شوي يا د نورو پر اوږو بار دي
- له چا ناوړه ګټه اخستل، خوړول، مغشوشول يا د چا فکر او عمل کنټرولول
- د چا شخصي شتمنۍ ورانول
- په زوره د چا ودول

**جنسي تاوتريخوالي** داسې وي لکه...

- په زور، ګواښ يا ويرولو سره جنسي اړيکو ته مجبورول
- له خوښې پرته له چا سره جنسي اړيکه لرل
- له نورو کسانو سره جنسي اړيکو ته مجبورول
- ناغوښتل شوي جنسي يا سپکوونکي څرګندونې
- پر ميندوارۍ کنټرول ساتل، مثلاً د ميندوارۍ د مخنيوي کوونکو وسائلو پر کارولو کنټرول، ماشوم را وړلو ته پر چا فشار زياتول يا هم د ميندوارۍ ختمولو لپاره څوک مجبورول
- بل هر سپک چلند چې له جنسيتوب سره تړاو ولري، د لوڅو تصويرونو شريکول يا يې د شريکولو ګواښ

## که تاسې يا ستاسې د پېژندګلوۍ کوم څوک د کورني تاوتريخوالي ښکار وي...

---

## د کورني تاوتريخوالي د ملاتړ مرکز ( Beacon Domestic Abuse Support Hub) سره اړيکه ونيسئ

د (DASH) Hertfordshire Beacon لخوا مديريت کيږي

**0008 002 0300** (دوشنبه تر جمعې 09:00-17:00)

د کورني تاوتريخوالي د ملاتړ مرکز د هغو کسانو لپاره دی، چې په هارتفورډ شاير کې يخوا له کورني تاوتريخوالي سره مخ شوي يا دا مهال ورسره مخ دي. دا مرکز تاسې په خپله سيمه کې له اړينو ملاتړيو خدماتو سره نښلوي.

پورته شميرې ته د زنګ وهلو پرمهال به د هارتفورډ شايد بيکن کوم غړی درسره ستاسې د وضعيت او اړتياوو په اړه خبرې وکړي او په مستقيمه توګه به مو اړوند سرويس ته راجع کړي.

www.hertssunflower.org

د راجع کولو دغه لاري چاري د سيمه ييزو کاروبارونو او عامه وګړو لپاره دی. مسلکي کسان بايد د DASH د خطرونو ارزونې موډل وکاروي او د خطرونو پر بنسټ ارجاع وليږي.